# مالي زده کړه

## د خپل هویت (شخصي معلوماتو) خوندي ساتل

**د آنلاین یا انترنیتي امنیت په استعمال او عادت ګرځولو سره خپل شخصي معلوماتو ته د نورو لاسرسي محدود کړی او خپل هویت خوندي ساتلو کې مرسته وکړئ.**



د هویت غلا دې ته وایي چې یو څوک ستاسو شخصي معلومات یا هویت د درغلۍ او غبن په هدف غلا کوي. دا معلومات کېدی شي ستاسو نوم، د سوشیل سیکوریټي شمیره، د کریډیټ کارت شمیره، یا د بانک حساب معلومات وي. غله کولی شي د دا ډول معلوماتو په مرسته اپارتمانونه په کرایه واخلي، پورونه واخلي، ستاسو په نوم حسابونه پرانیزي، یا ستاسو له اجازې پرته ستاسو په موجوده حسابونو باندې لګښتونه ډیر یا ور اضافه کړي.

په متحده ایالاتو کې د پېژند یا شخصي معلوماتو غلا، درغلۍ، او د معلوماتو سرغړونو کړنې هر کال په میلیونونو خلک اغیزمن کوي. له همدې امله دا مهمه ده چې تاسې د پېژند یا شخصي معلوماتو سره په آنلاین او ریښتنې یا فزیکي نړۍ کښې له احتیاط څخه کار واخلئ.

## خپل د کریډیت (مالي اعتبار) راپور چک او کنترول کړی.

خپل د کریډیټ راپور په ټول هیواد کې د کریډیټ راپور ورکونکي شرکتونو (Equifax، Experian، او TransUnion) او هر کال د وړیا ویباپڼې annualcreditreport.com له لارې وګورئ. که تاسو په خپل راپور کې داسې څه وینئ چې غلط یا شکمن وي، د کریډیټ راپور ورکولو شرکت او هغه شرکت سره اړیکه ونیسئ چې معلومات یې چمتو کړي. که تاسو په تیر یا راتلونکي کښې د پېژند یا شخصي معلوماتو د غلا په اړه اندېښمن یاست، تاسو کولی شئ په خپل کریډیټ فایل یا دوسیه کې د درغلیو خبرتیا اضافه کړی او یا خپل کریډیټ فایل یا دوسیه کنګل کړی. د نورو معلوماتو لپاره 7 ماډل وګورئ: په کریډیټ راپورونو او شمېرو پوهیدل.

همدارنګه تاسو کولی شئ د کریډیټ یا بیمې لپاره د وړاندیزونو ترلاسه کولو څخه چې مخکني تثبیت شوي وړاندیزونو په نوم پېژندل کیږي ډډه وکړی.

دا د کریډیټ یا بیمې هغه وړاندیزونه دي چې تاسو لپاره تیار شوي د نورو خلکو لاس ته له رسیدو څخه مخنیوی وکړي - دا وړاندیزونه بیا ستاسو په نوم د جعلي پورونو اخیستلو لپاره کارول کیدای شي. په خپل نوم د مخکې تثبیت شوي وړاندیزونو څخه د مخنیوي لپاره دې شمېرې ((888) 567-8688 یا آنلاین optoutprescreen.com لدې بریښنالیک سره په اړیکه کې شئ. د پنځو کلونو لپاره دمخکې تثبیت شوي وړاندیزونو بندولو یا نه ترلاسه کولو لپاره د "5 کالونو" انتخاب غوره کړئ — کچیرې تاسو غواړئ په دایمي توګه د وړاندیزونو درلېږل بند کړی د پورتني بریښنالیک له لارې غوښتنه وکړئ. د وړاندیزونو د بندولو څخه وروسته، تاسو بیا هم کولی شئ د کریډیټ لپاره غوښتنه وکړئ کیدای شي په مستقیم ډول له پور ورکوونکو سره اړیکه ونیسئ یا آنلاین غوښتنلیک ډک کړئ.

## خپل شخصي معلوماتو ته د نورو لاسرسی محدود کړی

- خپل شوشیل سیکیوریټي کارت یا شمېره په بټوه یا دستکول کښې له ځان سره مه ګرځوئ. کور دننه یو خوندي ځای کښې یې وساتئ.

- له دې برېښنالیک څخه dmachoice.thedma.org د آنلاین فورمې په ډکولو سره د مستقیم بازار موندنې ټولنې سره ځان راجستر کړی او خپل نوم د ډیری مستقیم تجارتي خبرتیاو لیست څخه لرې کړئ. دا به د غلو فرصت محدود کړي ترڅو ستاسو معلومات غلا کړي.

- تاسو کولی شي دغې شمېرې (888) 382-1222 سره اړیکه ونیسئ یا دې ویبسایټ [donotcall.gov](donotcall.gov) کې د تلیفوني اعلانونو د دایمي بندولو لیست کې ځان راجستر کړئ او د تل لپاره تلیفوني تجارتي اعلانونو بند کړئ.

- هیڅکله خپل شخصي معلومات د تلیفون له لارې چا ته مه ورکوئ چې تاسو ته زنګ وهي او غوښتنه یې کوي، سره لدې که دوی ووایي چې ستاسو له بانک یا مالي اداري پورې اړوند کس دی. د تایید او ځان داده کولو په مقصد تلیفوني اړیکه بند کړی او خپل بانک یا مالي موسسې سره په هغه شمېرې اړیکه ونیسی چې ستاسې د بانکي میاشتنې راپور یا د کریدیت کارت شاته ذکر شوی دی.

- مخکې لدې خپل شخصي معلومات یا حساب شمیرې لرې وغورځوئ ټول کاغذونه د اسنادو د ریټاړې ریټاړې کولو ماشین (شرېډر)، یا پخپل لاسونو واړه یا وشکوی. همدارنګه زاړه یا لغوه شوي کریډیټ او ډیبیټ کارتونه پرې یا وشکوئ.

- خپل سوشیل سیکیوریټي (ټولنیز امنیت) شمیره په خورا اړین حالاتو یا ځاینو کې شریک کړئ. ډیری وختونه کله چې یو څوک د دې شمېرې غوښتنه کوي، تاسو اړتیا نلرئ چې دوی ته یې ورکړئ.

- معلومات خوندي کړئ، لکه له واده څخه مخکې ستاسو د مور نوم، کوم چې ډیری وختونه د مالي موسسو سره د هویت تصدیق کولو لپاره کارول کیږي. په دې اړه چې دا معلومات آنلاین چېرته او څنګه خرګندیږي احتیاط وکړی، ځکه خو دا معلومات په خپل ټولنیز رسنیو حسابونو کې مه شریکوی.

## انترنتي یا آنلاین خوندیتوب په یاد او وکاروئ.

ډیرې لارې شته ترڅو تاسې شئ خپل شخصي معلومات خوندي وساتئ.

- خپل ټول پټنومونه یا پاسورډونه حفظ کړی. هیڅکله یې مه لیکئ (حتی پخپل کمپیوتر کې یې هم مه ثبتوی!) او یا یې له ځانه سره مه ګرځوئ.
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې پټنومونه یا پاسورډونه اوږده وي او د لوی او ټیټ کیس حروف او شمیرې پکې شامل وي. هغه کلمې مه کاروئ چې په لغتنامه کې موندل کیدی شي یا نومونه او نیټې چې ستاسو سره تړاو لري (د مثال په توګه خپل د ماشومانو نومونه یا د زیږون نیټه د پټنوم یا پاسورډ په توګه مه کاروئ).
  - غوره عمل دا دی چې د هر حساب لپاره مختلف پټنوم یا پاسورډ ولرئ. که تاسو ته دا کار خورا ستونځمن وي چې د ډیر بیلابیل پټنومونه یا پاسورډونه په یاد وساتئ، خپل مالي حسابونو لپاره جلا، اوږده چې اټکل ستونځمن وي پاسورډونه وټاکئ.

خپل مالي یا شخصي معلومات د انټرنیټ له لارې مه ورکوئ مګر دا چې تاسو اړیکه نیولې وي او ډاډمن یاست چې له چا سره معلومات شریکوی.

- هیڅکله د هویت  یا شخصي معلومات آنلاین مه شریکوئ مګر دا چې سایټ د معلوماتو د محرم  کولو برنامې له لارې خوندي وي ، ترڅو هیڅوک دا توان ونلري چې ستاسو معلومات غلا یا په غیر قانوني توګه ترلاسه کړي.

- د خوندي ویبسایت نښه دا وي چې په https تورو سره پیلېږي نه له httpتورو سره. او د ویبسایت آدرس سره نږدې د قفل (🔒) نښه هم شتون لري. بیا هم یو خوندي ویبسایت چې د قفل نښه هم ولري پدې معنی نده چې هغه د قانوني وي. صرف د "https" او قفل نښې په لیدو دا مه انګېرئ چې ویبسایت خوندي دی.

- د مالي یا شخصي معلوماتو لیږلو پر مهال عامه وای فای مه کاروئ. او که تاسو عامه کمپیوټر کاروئ، لکه ستاسو په محلي کتابتون کې، هیڅکله لټونپانه یا براوزر ته اجازه مه ورکوئ چې ستاسې پټنوم یا پاسورد ثبت کړي،  د کار په پای کې مخکې له دې چې تاسو کمپیوټر پرېږدئ تل ټولې ویبپاڼه او لټونپاڼې یا براوزرونه بند او ترینه بهر شئ یعنی ځان لاګ آف کړئ.

- خپل تلیفون او ټابلیټ د پټنوم یا پاسکود په مرسته خوندي کړی. ډیری خلک په خپلو ګرځنده وسایلو کې اپلیکېشنونه کاروي او خپل پټنومونه یا پاسورډونه په اپلکېشنونو کې ثبتوي ترڅو بل وار په اتومات توګه لاګ اِن یا ورننوځي، پدې کار سره انترنیتي غله ستاسو شخصي معلوماتو ته آسانه لاسرسی پیدا کوي. د پټنوم یا پاس کوډ کارول تاسو ته ډاډ درکوي چې بل څوک نشي کولی ستاسو زیرمه شوي حساس معلومات ترلاسه کړي.

- د بریښنالیکونو له لارې د شخصي بانکي معلوماتو غوښتنه کونکو ته ځواب مه ورکوئ، حتی که دوی د شرکت نښه هم ولري! مالي ادارې به هیڅکله د بریښنالیک له لارې د شخصي معلوماتو غوښتنه ونه کړي.